# تیموتاوس ته د پولوس رسول لومړی لیک

د کتاب پېژندنه

تیموتاوس د کوچنۍ اسیا یا اوسنی ترکیې څخه ؤ. د هغه مور یهودي او پلار یې یوناني ؤ. تیموتاوس د پولوس رسول په وسیله په عیسی مسیح باندې ایمان راوړ او د افسیس د کلیسا د یو ځوان رهبر په توګه یې پرمختګ وکړ. تیموتاوس په پولوس رسول باندې لکه د خپل زوی په شان ګران ؤ او د زیږي رسولو په ډېرو سفرونو کې به یې هغه د ځان سره بیولو. پولوس رسول په تیموتاوس باندې پوره باور درلود او د افسیس د کلیسا درونډ مسوولیت یې هغه ته سپارلی ؤ.

دا لیک په لومړۍ مرحله کې په کلیسا کې د غلطو عقیدو په هکله خبرداری ورکوي او پولوس تیموتاوس ته حکم کوي چې د دې غلط تعلیم مخنیوی وکړي او هغوی اصلاح کړي. هغه دروغجن استاذان په دې عقیده وو چې مادي دنیا یوه د شرارت نه ډکه دنیا ده. د هغوی په نظر خلاصون یوازې د یوې پټې او د راز نه ډکې پوهې او د داسې کارونو په سرته رسولو سره لکه د ځینو خوړو څخه د ځان ساتنې او د واده نه کولو له لارې تر لاسه کېدای شي.

همدارنګه په دې لیک کې هغه لارښوونې شاملې دي چې د کلیسا د اداري او عبادتي کارونو په هکله دي او هغه ځانګړتیاوې هم په کې بیان شوي دي چې د کلیسا مشران او خدمتګاران یې باید ولري. په دې لیک کې پولوس تیموتاوس ته ویلي دي چې د ایماندارانو د مختلفو ډلو لکه زړو او کونډو ښځو او د کلیسا د مشرانو سره باید څنګه چلند وکړي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تیموتاوس ځوان ؤ، خو خدای ورته نعمتونه ورکړي وو او هغه يې د افسيس د کليسا د لارښوونې دپاره ټاکلی ؤ. د دې ليک اصلي مقصد دا دی چې زېرى د ايماندارانو په ژوند کې عملي او ښکاره بدلون راولي، نه دا چې تش په خولې د ايمان دعوه کوي. پولوس تیموتاوس ته دا لارښوونه هم کوي چې ښنګه خپل ژوند به په پاکوالي کې تېر کړي او د ايماندارانو دپاره باید نمونه او مثال اوسي.

## د موضوعګانو لست

سلامونه: ۱:۱ – ۲

د کليسا او د هغې د مشرانو دپاره لارښوونې: ۱: ۳ – ۳: ۱۶

تیموتاوس ته د هغه د خدمت په هکله لارښوونې او حکمونه: فصلونه ۴ – ۶



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ (١) دا لیک د پولوس له خوا دی چې د عیسی مسیح رسول او زمونږ د خلاصوونکي خدای او
عیسی مسیح په حکم چې زمونږه هیله ده، ټاکل شوی دی، (٢) تیموتاوس ته چې په ایمان کې لکه
زما د ربښتیني زوی په شان دی. زمونږ د پلار خدای او زمونږ د ښبتن عیسی مسیح فضل، رحم او
سلامتي دې وي په تا باندې.

## د غلطو تعلیمونو په هکله خبرداری

(٣) کله چې زه مقدونیې ته په سفر روان وم نو ستا نه مې په کلکه غوښتنه وکړه چې په افسیس کې
پاتې شې، ځکه چې هلته ځینې خلک غلط تعلیم ورکوي او ته باید هغوی ته حکم وکړې چې د دې
کار نه لاس واخلي. (٤) هغوی ته ووایه چې خپل وخت په نکلونو او خپلو نیکونو په
نه تمامېدونکو شجرو باندې نه ضایع کوي. دا شیان یوازې د خلکو په منځ کې بحثونه رامنځته کوي،
بلکې د هېچا سره د خدای په کار کې چې د ایمان په وسیله تر سره کېدای شي، مرسته نه کوي. (٥)
د دې حکم مقصد هغه مینه ده چې د پاک زړه، پاک وجدان او سوچه ایمان سره پیدا کیږي. (٦)
خو ځینو خلکو د دې شیانو څخه مخ واړاوه او خپل ځانونه یې په بې معنی بحثونو کې راګېر کړل.
(٧) هغوی غواړي چې د شریعت عالمان اوسي، خو پرته له دې چې پوه شي چې څه وایي یا د څه
شي په هکله په ډاډه زړه خبرې کوي.

(٨) مونږ پوهېږو چې شریعت ښه دی، خو که چېرې د هغه څخه په سمه او مناسبه توګه ګټه
واخیستل شي. (٩) خو په دې هم باید پوه شو چې شریعت د نېکانو دپاره جوړ شوی نه دی بلکې
د قانون ماتوونکو او نافرمانه خلکو دپاره، بې دینه او ګناهکارانو، ناپاکانو او د مقدساتو سپکوونکو، د
هغو خلکو دپاره چې خپل مور او پلار وژني او د قاتلانو دپاره، (١٠) د بد اخلاقانو، بچه بازانو، د
غلامانو خرڅوونکو، دروغجنو، په دروغو شاهدي ورکوونکو او د هغه چا دپاره جوړ شوی دی چې
د سم تعلیم په خلاف دي. (١١) دا د مبارک خدای د جلال نه ډک زېری دی چې ماته راسپارل
شوی دی.

## د خدای د رحم دپاره شکرګزاري



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٢-١٣ زه د خپل څښتن عیسی مسیح شکر کوم چې ماته یې قوت راکړی دی چې د هغه کار
سرته ورسوم، که څه هم مخکې به ما کفر ویلو او ځوروونکی او ظالم سړی وم، ما باندې یې باور
وکړ او د خپل خدمت دپاره یې غوره کړم. خو په ما باندې رحم وشو، ځکه چې ما په بې ایمانی او
ناپوهی کې دا کارونه کړي وو. ١٤ زمونږ څښتن په ما باندې ډېر زیات فضل وکړ او هغه ایمان او
مینه یې ماته راکړه چې د عیسی مسیح سره په یووالي کې تر لاسه کیږي. ١٥ دا خبره رښتیا او په
پوره توګه د منلو وړ ده چې عیسی مسیح دنیا ته راغی چې ګناهکاران وژغوري او زه تر هغو ټولو بد
یم. ١٦ خو له همدې امله په ما باندې رحم وشو، ترڅو عیسی مسیح خپل لوی صبر ماته چې تر
ټولو ګناهکارانو بد یم، وښايي او د هغو ټولو خلکو دپاره یو مثال اوسم چې وروسته به په هغه باندې
ایمان راوړي او تلپاتې ژوندون به ومومي. ١٧ اوس دې ابدي پاچا، نه فناکېدونکي، نه لیدونکي او
یوازېني خدای ته تل ترتله عزت او جلال وي! امین.

١٨ اې تیموتاوسه زما زویه، د هغو پیشګویانو له مخې چې پخوا ستا په هکله شوې دي، تاته حکم
کوم او هیله مند یم چې دا حکم سرته ورسوې او د هغو څخه د وسلو په توګه په جګړه کې ښه کار
واخلې ١٩ او خپل ایمان او پاک وجدان ټینګ وساتې. ځینو خلکو چې د خپل وجدان خبره ونه
منله، نو د هغوی د ایمان کشتۍ ډوبه شوه. ٢٠ په هغوی کې هیمناوس او سکندر شامل دي چې ما
هغوی شیطان ته وسپارل، ترڅو دا زده کړي چې نور کفر ونه وایي.

## د عبادت په هکله لارښوونې

٢ ١ نو د هرڅه نه مخکې زه په کلکه ستاسو نه غوښتنه کوم چې د ټولو خلکو دپاره زاری،
دعاګانې، شفاعتونه او شکرګزاري وکړئ. ٢ د پاچاهانو او د واک د ټولو خاوندانو دپاره هم داسې
وکړئ، ترڅو مونږ په ټولو برخو کې د دینداری او عزت سره یو سوله ایز او ارام ژوند وکړو. ٣ دا
کار ښه دی او زمونږ خلاصوونکی خدای ورباندې خوشحالیږي. ٤ هغه غواړي چې ټول خلک
خلاصون ومومي او حقیقت وپېژني. ٥ ځکه چې یو خدای دی او د خدای او انسانانو ترمنځ یو
منځګړی دی او هغه عیسی مسیح دی چې په خپله انسان دی ٦ او خپل ځان یې د ټولو دپاره
قربان کړ او دا په ټاکلې وخت کې ثابته شوه چې خدای غواړي ټول خلک خلاصون ومومي. ٧ له



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

همدي امله زه وعظ کوونکی او رسول وټاکل شوم. زه خدای راولېږلم چې غیریهودیانو ته د ایمان او
حقیقت په هکله تعلیم ورکړم. زه رښتیا وایم او دروغ نه وایم.

۸ نو زه غواړم چې د هر عبادت په وخت کې دې سړي بې له قهر او دعوې خپل سپېڅلي
لاسونه پورته کړي او دعا دې وکړي. ۹ همدارنګه ښځې دې هم د حیا او شرافت مناسب کالي
واغوندي، نه دا چې خپلې کمڅې جوړې کړي او په سرو زرو، مرغلرو او قیمتي کالیو باندې خپل
ځانونه سینګار کړي، ۱۰ بلکې خپل ځانونه دې په ښو عملونو چې د دیندارو ښځو سره ښه
ښکاري، سینګار کړي. ۱۱ پرېږدئ چې ښځې په ارامۍ او تابعدارۍ سره زده کړه وکړي. ۱۲ زه
اجازه نه ورکوم چې ښځې دې سړیو ته تعلیم ورکړي او یا دې په هغوی باندې واک او اختیار ولري،
بلکې ښځه باید خاموشه اوسي، ۱۳ ځکه چې لومړی آدم پیدا شو او وروسته حوا ۱۴ او دا آدم
نه ؤ چې وغولېده، بلکې ښځه وه چې وغولېدله او د خدای قانون یې مات کړ. ۱۵ خو ښځې به د
اولاد په راوړلو سره خلاصون مومي، که چېرې هغوی په ایمان، مینه او پاکۍ کې ټینګې پاتې شي او
په خپل ځان باندې واک ولري.

## د کلیسا د مشرانو وړتیاوې

۳ ۱ دا خبره رښتیا ده چې که چېرې څوک غواړي د کلیسا مشر شي، نو هغه د عزت کار
غواړي. ۲ له دې امله د کلیسا مشر باید د ملامتیا نه پاک وي، یوازې یوه ښځه ولري، هوښیار
وي، په خپل نفس باندې واک ولري، شریف او مېلمه پال وي او د تعلیم ورکولو توان ولري. ۳
هغه باید شرابي او جګړه مار نه، بلکې نرم مزاجه وي، جنجالي نه وي او د پیسو سره مینه ونه لري.
۴ هغه باید خپله کورنۍ په ښه توګه اداره کړي او خپلو اولادونه ته داسې روزنه ورکړي چې په
ډېر درناوي سره د هغه منونکي اوسي. ۵ ځکه که چېرې څوک نه پوهېږي چې خپله کورنۍ
څنګه اداره کړي، نو هغه به څنګه وکولای شي چې د خدای په کلیسا باندې پام وکړي؟ ۶ هغه
باید نوی ایماندار نه وي، ځکه کېدای شي چې مغرور شي او د شیطان په شان محکوم وګرځول شي.
۷ برسېره پر دې، هغه باید د کلیسا نه بهر خلکو کې نېک نوم ولري، ترڅو سپک او رسوا نه شي
او د شیطان په دام کې ونه لوېږي.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د کلیسا د خادمانو وړتیاوې

۸ همدارنګه د کلیسا خادمان باید عزتمن خلک وي، دوه ژبي او دوه مخي نه وي، ډېر شراب دې
ونه څښي او د پیسو حرص ورسره نه وي. ۹ هغوی باید په پاک وجدان سره د ایمان راز وساتي.
۱۰ هغوی دې اول وازمایل شي او که چېرې هغوی بې عیبه ثابت شي، نو بیا یې پرېږدئ چې د
خادم په توګه خدمت وکړي. ۱۱ همدارنګه د هغوی ښځې هم باید عزتمنې وي، غیبت دې نه کوي،
بلکې هوښیارې او په هر کار کې وفادارې اوسي. ۱۲ خادم دې یوازې د یوې ښځې خاوند وي او
خپل اولادونه او خپله کورنۍ باید په ښه توګه اداره کړي. ۱۳ ځکه کوم کسان چې د کلیسا د
خادمانو په توګه کار کوي، هغوی به د خپلو ځانونو دپاره لوړ مقام تر لاسه کړي او په هغه ایمان کې
چې په عیسی مسیح باندې یې لري ډېره زړه ورتیا تر لاسه کړي.

## د ایمان تر ټولو لوی راز

۱۴ زه په دې هیله یم چې زر تاته درشم، خو بیاهم تاته دا شیان لیکم. ۱۵ که چېرې زما په
راتګ کې ځنډ رامنځته شي، نو ته به په دې لیک سره پوه شئ چې خلک د خدای په کورنۍ کې چې
د ژوندي خدای کلیسا او د رښتینولۍ پایه او بنیاد دی، څنګه چلند وکړي. ۱۶ دا ټولو ته څرګنده
ده چې زموږ د دینداری راز خومره لوی دی چې:

هغه د انسان په شکل کې ښکاره شو

د روح القدس په وسیله د هغه رښتینولي ثابته شوه

هغه د فرښتو له خوا ولیدل شو

په ټولو قومونو کې د هغه په هکله اعلان وشو

په دنیا کې خلکو په هغه باندې ایمان راوړ



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هغه په جلال کې پورته يووړل شو

## د خدای څخه د لرې کېدلو په هکله پېشګويي

**۴** ① روح القدس په ښکاره توګه وايي چې په اخرو زمانو کې به ځينې خلک ايمان له لاسه ورکړي او د بې لارې کوونکو روحونو او شيطاني تعليمونو پيروي به کوي. ② داسې تعليمونه به د هغو دروغجنو خلکو د رياکارۍ له امله وي چې وجدان يې مړ شوی وي. ③ هغوی خلک د واده څخه منع کوي او هم يې د هغو خوړو څخه منع کوي چې خدای پيدا کړي دي، ترڅو هغه ايمانداران چې په حقيقت باندې پوهيږي، په شکرګزارۍ سره يې وخوري. ④ هرڅه چې خدای پيدا کړي دي، هغه ښه دي او د هېڅ شي څخه چې په شکرګزارۍ سره قبول شي، بايد انکار ونه شي، ⑤ ځکه چې هغه د خدای په کلام او دعا سره پاک شوي دي.

## د عيسی مسيح ښه خدمتګار

⑥ تيموتاوسه، که چېرې ته هغه شيان خويندو او ورونو ته ور په ياد کړې چې ما ورته اشاره وکړه، نو ته به د عيسی مسيح يو ښه خدمتګار يې چې د ايمان په پيغام او هغه حقيقي تعليم باندې چې تا پرې عمل کړی دی، روزل شوی يې. ⑦ د بې دينه او د بې ګټې نکلونو نه ځان ساته او د هغې په ځای خپل ځان د دينداری د ژوند دپاره وروزه. ⑧ ځکه جسماني تمرين او روزنه يو څه ګټه لري، خو د دينداری تمرين او روزنه په هر لحاظ ګټه لري، ځکه چې هغه هم د دې ژوند او هم د راتلونکي ژوند دپاره يوه وعده ده. ⑨ دا خبره رښتيا او په پوره توګه د منلو وړ ده. ⑩ له همدې امله مونږ زحمت وباسو او هلې ځلې کوو، ځکه چې زمونږ هيله هغه ژوندي خدای ته ده چې د ټولو خلکو او په ځانګړې توګه د ايماندارانو خلاصوونکی دی.

⑪ د دې شيانو په هکله هغوی ته حکم او لارښوونه کوه. ⑫ هېڅوک دې تاته په دې خاطر چې ځوان يې په سپکه سترګه ونه ګوري، بلکې د ايماندارانو دپاره په خبرو، چال چلند، مينه، ايمان او پاکۍ کې يو مثال اوسه. ⑬ ترڅو چې زه راځم، نو خلکو ته د خدای کلام په لوستلو، نصيحت



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولو او تعلیم ورکولو بوخت اوسه. ۱۴ د هغه نعمت په هکله مه بې پروا کېږه چې تاته د هغې
پېشگویانې او د کلیسا د مشرانو له خوا په تا باندې د لاس اېښودلو په وسیله درکړل شوی دی. ۱۵
په دې شیانو باندې عمل کوه او خپل ځان دې هغو ته وقف کړه، ترڅو ټول ستا پرمختګ وویني.
۱۶ خپل ځان او خپل تعلیم ته پام کوه او په هغې باندې ټینګ ولاړ اوسه. ځکه که چېرې داسې
وکړې، نو ته به هم خپل ځان او هم هغه خلک چې ستا خبرو ته غوږ نیسي، وژغورې.

## د ایماندارانو په وړاندې د تیموتاوس چلند

**۵** ۱ مشر سړي ته هېڅکله سختې خبرې مه کوه، بلکې هغه داسې هڅوه لکه چې ستا خپل پلار
وي او د ځوانانو سره لکه د ورونو په شان چلند کوه. ۲ د زړو ښځو سره لکه د میندو په شان او
د ځوانو ښځو سره په پوره پاکۍ لکه د خپلو خویندو په شان چلند کوه.

## د کونډې ښځې سره چلند

۳ د کونډو ښځو چې په رښتیا سره څوک نه لري، پام او عزت کوه. ۴ که چېرې کونډه
اولادونه او یا لمسیان ولري، نو د ټولو نه مخکې هغوی باید د خپلې کورنۍ په وړاندې خپل دیني
مسوولیت وپېژني او د خپل مور او پلار حق ادا کړي، ځکه چې په دې کار باندې خدای
خوشحالیږي. ۵ کومه ښځه چې په رښتیا سره کونډه وي او څوک نه لري، هغه خدای ته هیله
لري او شپه او ورځ په زارۍ او دعا اخته وي. ۶ خو کومه کونډه چې عیاشي کوي، که هغه
ژوندۍ هم وي خو په حقیقت کې مړه ده. ۷ هغوی ته دا لارښوونې وکړه، ترڅو هېڅوک په
هغوی کې کومه غلطي او ملامتیا پیدا نه کړي. ۸ که چېرې څوک د خپلو خپلوانو او په ځانګړې
توګه د خپلې کورنۍ په غړو باندې پام نه کوي، نو هغه د ایمان نه منکر دی او تر بې ایمانه هم ډېر بد
دی.

۹ هغه کونډه دې د کونډو په لست کې ولیکل شي چې عمر یې د شپېتو کالو نه کم نه وي او
یوځل واده شوې وي. ۱۰ هغه باید د خپلو ښو کارونو له امله مشهوره وي: هغې خپل اولادونه
روزلي وي، مېلمه پالنه یې کړې وي، په عاجزۍ سره د خدای د خلکو خدمت وکړي، د دردمندو



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خلکو سره يې مرسته کړې وي او خپل ځان يې د هر ډول ښه کار دپاره وقف کړی وي.

۱۱ خو د ځوانو کونډو نومونه په لست کې مه ليکه، ځکه کله چې د هغوی نفساني غوښتنې هغوی د مسيح نه لېرې کړي، نو بيا غواړي چې واده وکړي. ۱۲ په دې ډول هغوی خپل ځانونه د قضاوت لاندې راولي، ځکه چې خپله اولنۍ وعده يې ماته کړې ده. ۱۳ برسېره پر دې، هغوی په دې عادت کيږي چې بېکاره اوسي او کور په کور وګرځي، نه يوازې بېکاره بلکې غيبت کوي او د نورو په کارونو کې لاس وهنه کوي او د هغو شيانو په هکله چې لازمه نه ده خبرې کوي. ۱۴ نو زما مشوره دا ده چې ځواني کونډې دې واده وکړي، اولادونه دې راوړي او د خپل کور کارونه دې تنظيم کړي او زمونږ مخالفينو ته موقعه ورنه کړي چې بدې خبرې وريسې وکړي. ۱۵ ځکه چې ځينې کونډې لا د مخکې نه بې لارې شوې دي او د شيطان په لاره روانې دي. ۱۶ که چېرې د يوې ايماندارې ښځې په خپلوانو کې کونډې ښځې وي، نو هغه دې په خپله د هغوی سره مرسته وکړي او په کليسا باندې دې بار نه اچوي، ترڅو کليسا د هغو کونډو سره مرسته وکړي چې په رښتيا څوک نه لري.

## د کليسا د مشرانو مسووليت

۱۷ د کليسا هغه مشران چې خپله وظيفه په ښه توګه سرته رسوي هغوی د عزت او تنخواه لايق دي، په ځانګړې توګه هغوی چې د کلام په اورولو او تعليم ورکولو کې زحمت وباسي. ۱۸ ځکه چې د خدای کلام وايي: «تاسو د غوبل کولو په وخت کې د غويي خوله مه تړئ.» او په بل ځای کې وايي: «مزدور د خپلې مزدورۍ حقدار دی.» ۱۹ د کوم مشر په خلاف چې تور لګول کيږي هغه مه منه، مګر دا چې دوه يا درې شاهدان ورباندې شاهدي ورکړي. ۲۰ هغوی چې ګناه کوي، نو د ټولې کليسا په مخکې يې ملامته کړه، ترڅو د نورو دپاره د عبرت سبب شي.

۲۱ زه د خدای او عيسی مسيح او د غوره شويو فرښتو په حضور کې تاته حکم کوم چې په دې لارښوونو باندې پرته له تعصب نه عمل کوه او په هېڅ کار کې د هېچا طرفداري مه کوه. ۲۲ ښختن ته د خدمت دپاره په هېچا باندې په لاس اينښودلو کې بيړه مه کوه او د نورو په ګناهونو کې مه شريک کيږه. پاک لمنه اوسه. ۲۳ د دې نه وروسته يوازې اوبه مه څښه، بلکې د خپلې معدې په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاطر لږ لږ شراب هم څښنه، ځکه چې ته زيات وختونه ناروغه کېږې.

(۲۴) د ځينو خلکو ګناهونه ښکاره دي او هغوی قضاوت ته رسوي، خو د نورو ګناهونه به وروسته ښکاره شي. (۲۵) همدارنګه د خلکو ښه کارونه هم په ښکاره ليدل کيږي او که دا کارونه په پټه هم شوي وي، نو يوه ورځ به ښکاره شي.

## د بادارانو سره د غلامانو چلند

۶ (۱) هغوی چې د غلامی د جغ لاندي دي، خپل باداران دې د ډېر درناوي لايق وګڼي، ترڅو د خدای نوم او زمونږ تعليم بدنام نه شي. (۲) هغه غلامان چې باداران يې ايمانداران دي، هغوی دې په دې خاطر د هغوی بې احترامي نه کوي چې هغوی ايمانداران ورونه دي، بلکې بايد د هغوی ښه خدمت وکړي، ځکه کوم خلک چې د هغوی د خدمت نه ګټه اخلي، هغوی ايمانداران او زړه ته نژدې خلک دي.

## غلط تعليم او د مال او دولت سره مينه

نو بايد دا تعليم خلکو ته ورکړل شي او هغوی وهڅول شي ترڅو په دې باندې عمل وکړي.

(۳) که چېرې څوک غلط تعليم ورکوي او زمونږ د څښتن عيسی مسيح د سمو خبرو او د هغه تعليم سره چې د ديندارۍ سره سمون لري، موافق نه وي، (۴) نو هغه مغرور دی او په هېڅ شي نه پوهيږي. هغه په لېونتوب سره بحثونه خوښوي او دا خوښوي چې د لغتونو په سر شخړه وکړي. دا شيان د کينې، بې اتفاقۍ، تهمت او بدګمانۍ سبب کيږي. (۵) دا د هغو خلکو په منځ کې د دوامداره بحثونو سبب کيږي چې خيالونه يې خراب او د حقيقت نه لېرې دي او هغوی ګومان کوي چې دينداري د شتمنۍ د لاسته راوړلو دپاره يوه وسيله ده. (۶) خو د قناعت سره ديندارې ډېرې ګټې لري، (۷) ځکه چې مونږ دې دنيا ته څه نه دي راوړي او نه د دې دنيا نه د ځان سره کوم څه وړلی شو. (۸) خو که چېرې مونږ خواړه او کالي ولرو، نو په هغو بايد قناعت وکړو. (۹) خو کوم خلک چې غواړي شتمن شي، نو هغوی د وسوسو او ډول ډول بې معنی او تاوان رسوونکو غوښتنو په دام



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې چې خلک د تباهۍ خواته بيايي، راګېرېږي. ﴿١٠﴾ ځکه چې د پيسو سره مينه کول د ډېرو بديو بنياد او سرچينه ده. ځينو خلکو چې د پيسو سره ډېر شوق پيدا کړی دی، نو خپل ايمان يې له لاسه ورکړی دی او په ډېرو غمونو يې خپل زړونه سوري سوري کړي دي.

## د تيموتاوس وظيفې

﴿١١﴾ خو ای د خدای د استازيه، ته د دې ټولو شيانو نه لرې اوسه. د عدالت، دينداری، ايمان، مينې، صبر او زغم او نرمۍ کوښښ کوه. ﴿١٢﴾ د ايمان په جنګ کې ښه وجنګېږه او تلپاتې ژوند تر لاسه کړه، ځکه چې ته خدای د تلپاتې ژوند دپاره غوره کړی يې چې د ډېرو شاهدانو په حضور کې په ښه ډول د خپل ايمان اقرار وکړې. ﴿١٣﴾ زه تاته د هغه خدای په حضور کې چې ټولو شيانو ته ژوند ورکوي او د عيسی مسيح په حضور کې چې د پانتياس پيلاتوس په مخکې يې ښه اقرار وکړ، حکم کوم ﴿١٤﴾ چې د زړه نا زړه کېدلو پرته دې حکم ته غاړه کېږدې. نو بيا به د اوس نه زمونږ د څښتن عيسی مسيح د بېرته راتللو پورې هېڅوک په تا کې کومه ملامتيا پيدا نه کړي. ﴿١٥﴾ نو مبارک خدای چې يوازېنی واکمن، د پاچاهانو پاچا او د څښتنانو څښتن دی، هغه به د عيسی مسيح راتلل په يو ټاکلي وخت کې ښکاره کړي. ﴿١٦﴾ خدای چې يوازې غير فاني دی او په هغه نور کې اوسېږي چې هېڅوک نه شي کولای هغه ته ورنژدې شي او هېڅ هېڅکله هغه نه دی ليدلی او نه يې ليدلی شي، عزت او قدرت دې ترتله د هغه وي! امين.

﴿١٧﴾ د دې دنيا شتمنو خلکو ته حکم وکړه چې نه دې مغرور کيږي او نه دې فاني مال او دولت ته کومه هيله ولري، بلکې خدای ته دې هيله ولري چې هرڅه مونږ ته پريمانه راکوي چې خوند ترې واخلو. ﴿١٨﴾ هغوی ته حکم وکړه چې نېک کارونه وکړي او په ښو کارونو کې شتمن شي او سخيان اوسي او دې ته تيار اوسي چې نورو ته هم برخه ورکړي. ﴿١٩﴾ په دې ډول به هغوی د خپلو ځانونو دپاره يوه خزانه جوړه کړي چې د راتلونکي دپاره يو ښه بنياد وي، ترڅو هغوی وکولای شي چې رښتينی ژوند لاسته راوړي.

﴿٢٠﴾ ای تيموتاوسه، هغه څه چې تاته درسپارل شوي دي، د هغه ساتنه کوه. د بې دينه خبرو او احمقانه بحثونو څخه چې په غلطۍ سره ورته «پوهه» ويل کيږي، ځان وساته. ﴿٢١﴾ د دې خبرو په



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اقرار کولو سره ځينو خلکو خپل ايمان له لاسه ورکړی دی.

په تاسو ټولو دې د خدای فضل وي.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختيځ افغانستان ۲۰۲۱
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.